# ما له ما څخه وروسته د ښځو په څېر بله داسې فتنه نه ده پرېښی چې هغه دې نارینه و ته ډېره زیانمنه وي. (یعنې د نارینه و لپاره د ښځو له فتنې څخه بله زیانمنه فتنه نشته)

له اسامه بن زید رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "ما له ما څخه وروسته د ښځو په څېر بله داسې فتنه نه ده پرېښی چې هغه دې نارینه و ته ډېره زیانمنه وي. (یعنې د نارینه و لپاره د ښځو له فتنې څخه بله زیانمنه فتنه نشته)".
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې له هغه وروسته یې داسې فتنه او امتحان ندی پرېښی چې د سړیو لپاره زیان رسوونکې وي لکه څومره چې ښځې دي، که چېرته یې له کورنۍ څخه وي، نو له شریعت څخه د سرغړونو له امله به د ده لپاره امتحان وي، او که ترې پردۍ وي نو د اختلاط او خلوت او هغه فسادونو له امله چې لدې دواړو څخه رامنځته کیږي د ده لپاره فتنه او امتحان وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5830